# د کور د اسبابو لپاره پور

**FAKTABLAD CSN PASHTO**

## څوک کولای شی پور واخلی او د څه شی لپاره؟

کډوال او ځنی نور بهرنیان کولای شی د کور د اسبابو لپاره د پور غوښتنه وکړی. د دی لپاره چه پور واخلی ته باید د نورو په جمله کی د کډوالو د منلو په پروګرام که شامل وی یا د کار په اداره کی راجستر او د ځای په ځای کیدلو لپاره د پیسو مستحق وی. او کله چه ته لمړی ځل په یوه ښاروالی کی ومنل شوی نو ستا عمر باید ۱۸ کاله پوره شوی وی.

دا پور د دی لپاره دی چه ته د پخلی د کوټی اسباب او موبل او فرنیچر او داسی نور شیان واخلی. دا پیسی باید د مثال په توګه د خوراک او کرایی لپاره مصرف نشی.

## زه څه وخت کولای شم پور واخلم؟

ته کولای شی له هغه روځی نه چه ته په ښاروالی کی منل شوی یی د دوو کالو په بهیر کی د پور غوښتنه وکړی. دا د پخوانی پور د زیاتو لولپاره هم اعتبار لری.

## څومره پیسی زه کولای شم پور کړم؟

دا چه څومره پیسی ته کولای شی پور کړی د دی سره اړه لری چه ستا په کورنی کی څو کسه دی، آیا په کورنی کی ماشومان شته دی، آیا ته د موبل او فرنیچر سره کور کرایه کوی یا بیله دوی نه، آیا ته مساجر یی (د یوی کوټی کرایه نیونکی). ته تل کولای شی د پور د اکثری اندازه نه لږ پیسی پور کړی. که چیری ته د یوه بل کس سره د واده د مکلیفت په ورته توګه (میره، ښځه، یوځای ژوند کوونکی یا شریک) اوسیږی ، تاسی باید د پور عریضه په ګډه توګه وکړی. بیا به تاسی د پور ګډ مسئولیت لری، دا په دی مانا ده چه تاسی دواړه د دی ګډ مسولیت لری چه پور بیرته ورکړ شی. دا مسولیت به تاسی دواړه په غاړه لری حتی که چیری بیا وروسته تاسی یو د بل نه جلا شی او یو د بل نه کډه وکړی.

| د کسانو شمیر | د موبل او فرنیچر نه لرونکی کور د پیسو تر ټولو نه جګه اندازه کرونه | د موبل او فرنیچر لرونکی کور/ د یوی کوټی کرایه نیونکی |
|---|---|---|
| ۱ لوی | ۱۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۱ لوی + ۱ ماشوم | ۲۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۱ لوی + ۲ ماشومان | ۲۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۱ لوی + ۳ ماشومان | ۳۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۱ لوی + ۴ یا زیات ماشومان | ۳۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۲ لویان | ۱۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۲ لویان + ۱ ماشوم | ۲۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۲ لویان + ۲ ماشومان | ۳۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۲ لویان + ۳ یا زیات ماشومان | ۳۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |

## د پور غوښتنه زه څرنګه وکړم؟

د پور د غوښتنی تر ټولو نه آسان توګه دا ده چه ته د کار په اداره کی یا په ښاروالی کی د خپل مسول کارکوونکی نه د مراستی غوښتنه وکړی.

دا کارکوونکی به تا ته مرسته وکړی چه فورمی ډکی کړی او د پور د مقرراتو په هکله به تا ته معلومات درکړی.

دا کارکوونکی به بیا وروسته ستا غوښتنلیک د سی.اس.ان. اداری ته واستوی.

## ما یو ځل پور اخیستی، آیا زه کولای شم نوری زیاتی پیسی هم پور کړم

ته کولای شی د نور زیات پور غوښتنه وکړی که چیری

- تا پخوا د پور د هغه پیسو نه چه ته د هغوی مستحق وی لږ پیسی پور کړی دی.
- تا دکرایی کوټی یا یوه موبل او فرنیچر لرونکی کور نه یوه موبل او فرنیچر نه لرونکی کور ته کډه کړی.
- دلته په سویډن کی د ستاسو په کورنی کی یو ماشوم پیدا شو.
- که د ستاسو یو نژدی خپلوان چه هغه هم د ښاروالیو د منل کیدلو په پروګرام کی شامل یا د ځای په ځای کیدلو لپاره نغدی مرستی په لاس راوړی، سویډن ته راشی. میره، ښځه، یوځای ژوندکونکی او تر ۲۱ کلن ټیټ ماشومان نژدی خپلوان ګڼل کیږی.

که چیری تاسی د خپل میره، ښځی یا یوځای ژوندکونکی سره پیسی پور کړی وی، نو تاسی دواړه د ټول پور د بیرته ورکولو مسئولیت په غاړه لری.

## اداری کمیشن Uppläggningsavgift

یو اداری کمیشن چه ۳۰۰ کرونه دی، په مستقیم ډول د پور نه کسر کیږی. د اضافی پور لپاره اداری کمیشن ۱۰۰ کرونه دی.

## د پور پیسی څرنګه ماته راکول کیږی؟

د پور پیسی د سی.اس.ان. لخوا د سویډبانک Swedbank په وسیله تاسی ته تادیه کیږی. پیسی کیدای شی چه د یوه چک kontantavi یا د ستاسو د بانکی حساب konto په وسیله تاسو ته تادیه شی. بانکی حساب کیدای شی چه په سویډبانک یا په کوم بل بانک کی وی. د دی لپاره چه پیسی د ستاسو په بانکی حساب کی واچول شی، تاسی باید د سویډبانک سره تماس ونیسی او دوی ته ووایی چه پیسی باید په کوم بانکی حساب کی واچول شی.

## دا پور باید څه وخت بیرته ورکړ شی؟

ته باید د خپل پور بیرته تادیه کول دوه کاله وروسته له هغی روځی نه چه تا لمړی ځل د پور پیسی اخیستی دی، پیل کړی. د پور بیرته تادیه کول له ۱ نه تر ۷ کالو پوری وخت نیسی، په دی شرط که ته خپل پور د پور د بیرته تادیه کولو د عادی پلان په بنسټ تادیه کوی.

## د پور سود یا کلنی فیصدی ränta څنګه حسابیږی؟

سود په مستقیمه توګه د هغی روځی نه حسابیږی چه تاسی لمړی ځل پیسی اخیسی دی. د دوو لمړیو کالو سود به له دوو کالو نه وروسته په هغه روځ چه تاسی د پور بیرته تادیه کول پیل کړل، په پور باندی ورزیات شی. له دی نه وروسته به جاری یا روانه فیصدی د پور په پاتی برخه ورزیاتیږی. په www.csn.se کی تاسی کولای شی د مربوط کال لپا ره فیصدی ووینی. سود یا فیصدی د حکومت له خوا ټاکل کیږی.

## زه څرنګه باید پور بیرته تادیه کړم؟

له دوو کالو نه وروسته تا ته به سی.اس.ان د بیرته ورکولو لمړی بیلونه ی در واستوی. په عادی ډول به ته پور په هره میاشت کی تادیه کوی. داچه څومره پیسی به ته تادیه کوی، د پور د اندازی سره اړیکه لری. که ته په مناسب وخت تادیه و نه کړه نو مونږ به تا ته د یادونی یو لیک درلیږو.

## آیا زه کولای شم تر ټاکل شوی اندازی نه زیاته تادیه وکړم؟

که ته غواړی، کولای شی چه د پور بیرته ورکول په لمړیو دوو کالو کی پیل کړی. همدا راز ته کولای شی چه تر ټاکل شوی اندازی نه زیاته تادیه هم وکړی، تر څو خپل پور زر بیرته ورکړی.

## که زه نه شم کولای چه پور تادیه کړم، نو زه باید څه وکړم؟

که ته ټیټ عاید لری او نه شی کولای چه پور تادیه کړی، په دی صورت کی ته کولای شی د دی عریضه وکړی چه لږ پیسی تادیه کړی ( ټیټه تادیه) او یا د بیرته ورکولو لپاره صبر وکړی ( مهلت). داچه تاسی ته به د مهلت یا د ټیټی تادیی اجازه درکړه شی که نه، د تا د کورنی د شمیر او عاید سره اړیکه لری. یوه پریکړه د یوه کال لپاره اعتبار لری. حتی که ته پور بیرته نه تادیه کوی، سود به بیاهم حسابیږی.

که ته د پور د بیرته ورکولو صبر کوی، نو پور به نور هم زیاتیږی. که ته په سویډن کی ژوند نه کوی، نو د مهلت لپاره نور مقررات اعتبار لری. سی.اس.ان. کولای شی د دغو مقرراتو په هکله تا ته زیات معلومات درکړی.

CSN 4001N/1703

## آیا پور بښل کیږی؟

پور په هغه صورت کی په پوره ډول ښښل کیږی که چیری سی.اس.ان دی نتیجی ته راشی چه ته په اوږده راتلونکی کی د دی توان نه لری چه خپل پور بیرته ورکړی. د دی علت د مثال په توګه کیدای شی دوامداره ناروغی یا زوړوالی د ټیټ عاید سره وی. د مړینی په صورت کی پور په اتومات ډول فسخ کیږی.

## انترنیتی پانه

د کور د لوازمو د پور په هکله زیات معلومات په www.csn.se کی موجود دی.

## د پتی یا آدرس بدلیدل

که ته په سویډن کی یوه بل ځای ته کډه کوی، نو باید د نوی پتی په هکله د نفوسو د احوال د ثبت اداری ته خبرتیا ورکړه شی. دا به ښه وی چه همدا راز سی.اس.ان. ته هم خبرتیا ورواستوی. په بهر کی خپله نوی پته باید ته په مستقیم ډول سی.اس.ان. ته ورواستوی. د پتی د کارت ادرېسسکورت adresskort سفاربښت کولای شی د سی.اس.ان نه وکړی.

## زیات معلومات


زیات معلومات لاندی سرچینی ورکوی:

CSN, Hemutrustningslån.

851 82 SUNSVALL

تیلفون: 100 276-0771

تیلفونی وخت: له ۹/۰۰ تر ۱۲/۰۰ بجو پوری

فاکس: 06 60 18-060

بریښنا لیک: hemutrustningslan@csn.se

انترنیتی پانه: www.csn.se



دا معلوماتی پاڼه لاندی ژبو ته ژباړه شوی ده: عربی، انګریزی، فرانسوی، کورمانجی، پښتو، فارسی، روسی، سومالیایی، سورانی، تیګرینیا.

د ژباړو مسئولیت سیمانتیکس Semantix په غاړه لری.